مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۴/۱۷

# د مینې زور

دا بــه زمــوږ مـینـه کـې زور نـه و
یا به په زړونـو کې مـو شـور نـه و

په مـزلـونـو مـو پـښـې پـولـۍ شـوې
کـه بـه تـاکلـې نـښــه لـور نـه و

سـرونه لـوړ هم خـیـالـونـه لـوړ وو
فـکـر تـدبـیـر نـه و راټـول نـه و

ګـاونـډ مـو تـل د سـتـیـدو پـه هیله
کافر که روس و جوړ لاهور نه و

دنـیـایي چـارې پــه دوکـه او ریـا
پوه د فـریب نـړۍ په سوور نـه و

پـر لـوریـنـه شـوه برلاســي رخــه
د نـړدیـوالـي کـوم انـځور نــه و

سپیځلي مینې خـپل رنګ وبایـلـو
بې باوري شوه ورو بیا وروو نه و

مودې شوي تیرې موږه لار نه مومو
زواک د مـونـدلــو هم مـو زور نـه و

د ژوند په سمه لار رهي که نه شــو
انګیرۍ مـه چې موږ بیـتـکور نه و



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ